مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۱۲/۰۳

# حـد پیژندنه

سوال زاري که یار ته وکړی مغرورېږی
چی مغرور شی بیا په مینه نه پوهیــږی

پیـرزوینـــه ډیره ښـــه ده خـو تر حـــده
له حــد ډیره، وظیـفه درته جوړیږی

درناوی کول هر چا ته غوره کار دی
ډیري ستونزې درناوی باندی حل کیږی

احترام چی د ځان حق بولی هم ډیر دي
خـو! بل چا ته په حرمت نه قائیـلیږی

تعادل په هـر عـمـل کی ډیر اړین دی
نا انـډوله نـظـامونه ټـول ړنګیــږی

پیژندل د حد ضروردی هرانسان ته
که حد مات شو خوښی واړه پناه کیږی

کلیــواله! کـه تیری دی په بـل وکـــه
کورو کلی او وطـن دی تبــاه کیــږی.

کاناډا/ ۲۰۲۰


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ